دمخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت

دارزګان ولایت

ارزګان ولایت د ډیجیټلي همږغي ریاست

# لنډ ګزارش

د راپور وړاندې کونکی : انجینر عبدالقیوم (ظفري)

د راپور اخیستونکی : دمخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت

نیټه:..................................................................................۱۴۰۰

## د ارزګان ولایت د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ ریاست مقام تر سره شوی کړنی

1. - ورځنی ګزارش د ولایت او ولسوالیو د مخابراتي شبکو د فعالیت او عدم فعالیت و کابل ته هره ورځ پرته له وقفې او د ټولو مخابراتي شبکو نظارت کول.
2. د ولایت مقام په اداري او PDC غونډو کې پروخت باندې اشتراک کول،
3. د عوایدو د کمیټې غونډو کې برخه اخیستل د ټولو شوو عوایدو په اړوند توضیحات ورکول او نورو باقیداریو مربوط ټولو اداراتو ته خبر ورکول.
4. د خپل اداري پرسونل لپاره اداري جلسې جوړول او د هغوی تر منځ د هماهنګۍ فضا جوړول.

## د اداري بخش د اجراأتو راپور:

د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ ریاست اداري مدیریت د ریاست د کارمندانو او کارکنانو مراقبت او کنترول د حاضرۍ د رویه کیرۍ او هم شویدي همداراز د لایحه وظایف د رویه وظیفي ورته ښودل شویدي د ضرورت په وخت کې د تخصیص معلومات د محترم مستوفیت سره ارتباط نیول شویدي چې په دغه ربعه کې د بودجې د نه شتون په سبب تنها معاشات اخیستل شویدي د دغې ربعې په اوږدو کې د ۲۰۰ په شا وخوا کې مکتوبونه صادر او وارده نیول شویدي چې بعضې ئې جواب طلبه دي د هغو اجرات شویدي چې د ۱۴۰۰ مالي کال د آی تي د صنف د فعالولو خبر و رسنیو او او د ذکرو اړونده ادارو ته ورکول شویدي او همداراز د مستوفیت ریاست د هدایت په سبب د ریاست تخریب شوی اجناس لکه میز، چوکۍ، الماري، کمپیوټران او داسې نور اجناس مو اعلان ته ورکړل چې پسله طي مراحل ئې (21200) افغاني د دولت عوایدو ته تحویل کړیدي او همداراز د وزارت مخابرات څخه د انترنیت په مورد او هم د ریاست مخابرات د امنیت په مورد او هم د نوی تشکیل په مورد پیشنهادونه او غوښتنه شویده چې تر اوس مهاله د غو ښتنو څخه هیڅ لاسته راوړنه نلریاو د ۱۴۰۰ مالي کال عادي بودجې څخه (2246000) افغاني بودجه منظور شویده چې تر اوس مهاله پورې صرف معاشات اخستل شویدي.

حفظ المراقبت: د ښه چاپیریال د لاسته راوړلو لپاره په ریاست کې د سرسبزۍ روزل د کړکۍ او دروازو جالي ترتیب کول د ریاست سر درخت په صحي توګه آبیاري کول د امراضو د مخنیوي په مورد دوا پاشي کول همدا شان د د حفظ الصحي په خاطر د تشنابونو پاکوالي او صفايي کول د برق سیستم برابرول روزمره په دوامداره توګه حفظ مراقبت شویدي.

## ۳: د ای تي بخش د اجراأتو راپور:

د ای تي مدیریت د ۱۴۰۰ مالي کال د لومړي ربعې ګزارش

1. د خپل دفتري روزمره کارونو تر څنګ د ای تي په برخه کې د الاندې فعالیتونه ترسره سویدي
2. هر پنج شنبه د اطلاعاتو او کلتور ریاست د لوحو د اصلاح په کمیسون کې برخه اخیستل.
3. د اداري اصلاحاتو د امریت د نظارت او ارزیابي د بایومتریک ټوله ډاټابس د دوی و مرکز ته لیږل سوی څه مشکلات یې لرل هغه یې ورته حل شوی او د هغوی د مرکزي ای تي سره په همږغي تخنیکي مشکلات په ګوته شوي او ورته حل شویدي.

4. د زراعت د منابع بشري د کمپیوټر تخنیکي مشکلات په ګوته شوي ، لپټاپ یې وایروس وهلی بوټ یې خراب او هغه یې ورته حل شویدي او عادي حالت ته راوګرځیدي

5. د زراعت ریاست د بل کارمند د کمپیوټر تخنیکي مشکلات په ګوته شوي د نوموړي لپټاپ پارمټ شوي او وروسته ورته د ریکوارۍ په اړوند کومک شوي او ورته حل شویدي

6. د ولایت مقام د ریاست دفتر اړوند لپټاپ یې څه د وینډوز عوارض لرل چې نوي وینډوز ۱۰ ورژن H2۱ ورته وشو او ددې تر څنګ یې د ګرافیک او ډرایور افیس او نورو مربوطه څیزونو کاریې ورته حل کړای شویدی.

7. د خپل ای تي صنف لپاره د رجیسټریشن پروسه روانه ده چې اوس د صنف رسمي تعداد پر پوره کیدو دی او په را روانه هفته کی به شروع سی.

8. د ټولګیو امریت لپاره د کانسپټ نوټ جوړه ول او هغوی ته استول.

9. د ای تي صنف لپاره ۲ خلی دولتي او شخصي راډیو ګانو ته اعلانات استول.

10. د ارزګان ولایت د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ ریاست د فیسبوک د صفحې باندې پوسټ شیرکول او عام خلګ ترې خبرول.

## ترلاسه شوي اهداف:-

۱- د عمومي پلان مطابق میاشتني، دری میاشتني او کلني د پلان طرحه جوړول د وزارت موخو ته د رسیدو په خاطر.

۲- د ریاست د کاري پلان مطابق د بودیجوي ستونزو مشخص کول او ستونزو د حل لپاره مربوطه مقاماتو ته پیشنهادونه لیږل.

۳- د صلحې د تګلارې ستراتیژۍ ته پاملرنه د افغانستان د ملي پروسې پراختیا او له اداري فساد سره مبارزه په خپله کاري ساحه کې.

۴- د خپلې ادارې د پالیسي مطابق د قانون موضوع ته د رسیدو په خاطر د معلوماتو ورکول په خپل وخت دولتي ادارو، مدني جامعو، رسني او ټولو ښاریانو ته.

۵- پرخان منل او خاتته اطمنان حاصلول د قانون له تطبیق څخه په اداري چارو کې له ازار او خوروني د بنځو او کم عمره ماشومانو او د کړنو د مقرري په خپل کاري چاپیریال کې.

۶- د خپلو تحت اثر کارمندانو رهبري او مدیریت کول د ښوو او ګټورو کړنو په خپل وخت او بې له خنډه د ما تحتو کارمندانو د کار ارزونه د کار د نوښت را وستلو په موخه.

۷- د ضرورت په وخت کې د فعالیتو او لاسته راوړنو دری میاشتني او کلني رپوټ ورکول لوړو مقاماتو په فالیت کې مخته والي او د خپل مربوطه څانګو د لاسته راوړنو څخه د خبرولو په خاطر.

۸- د نورو دندو اجرا کول چې د لوړو مقاماتو له خوا د قانون مطابق او د اداري له موخو سره ټکر ونلري.

۹- له خصوصي سکتورو او په مرکز کې له مربوطه څانګو سره همږغي ته وده ورکول عملي کار او ډیجیټلي پالسیاني د ولایت په سطح.

۱۰- د ګټورو خدمتو د وړاندې کولو په منظور د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجي له فعالیتو څخه او ډیجیټلي خدماتو ته د ولایت په سطح پراختیا ورکول.

## د کار په بهیر کې شته ستونزې:

- په ولسوالیوکې د نا امنیو له کبله د مخابراتي شبکو عدم پوښښ او ضعیف سیګنال چې د خلکو ډېر زیات شکایات هم ور سره مل دي.
- د مخابراتي شرکتو لخوا د همږغې ریاست او خلکو وړاندیزونو او غوښتنو ته نه توجه.
- دا چې د ارزګان ولایت د همږغې ریاست د سلام شبکې له کبله سخت تر تهدید لاندې دی د یوې امن خونې (safe room) نشتون چې باید را ته جوړه کړل سي.
- د IT د کمپیوټر د تدریس لپاره د مناسب اطاق نشتوالی.
- د لا ښه پرمختګ لپاره د شبکې او نورو سیستمونو اړوند وسایل نه شتون د کار د خنډ باعث دي.

۱: د افغانستان مسلح دښمنان د مخابراتي او انټرنیټي خدماتو د پراختیا او پرمختیا په وړاندې خنډ ګرځي. چې ولسونه یې د ژوندانه او شرکتونه یې د اقتصادي زیان او ستونزو سره مخ کړیدي.
۲: د مسلکي کارمندانو نشتون د کار د خنډ او خنډ سبب ګرځي

## ❖ د چارو د ښوالي لپاره وړاندیزونه او (حل لارې):

۱: په ټولو ولسوالیوکې د افغان ټیلي کام یو یو انتن د رول ځکه د افغان ټیلي کام د ښه موقیعت له امله انتنو ته د دښمن لاس نه رسیږي.
۲: مخابراتي شرکتونو ته په خاص ډول سلام ته، د وزارت محترم مقام هدایات ترڅو د ارزګان ولایت نورې ډېرې سیمې هم تر مخابراتي پوښښ لاندې راولي.
۳: د دې لپاره چې ولس ته ښه مخابراتي خدمات وړاندې شي ښه به داوي ترڅو مخابراتي شرکتونه د مشکل او خطر په وخت کې د مخابراتو ریاست په جریان کې کړي ترڅو د مخابراتو ریاست د اړونده ارګانو سره مشکلات شریک او حل کړي.
۴: مخابراتي شرکتونو ته د وزارت محترم مقام جدي هدایات ترڅو خپل شته خدمات په باکیفیته ډول وړاندې کړي.
۵: د ریاست کارمندانو ته د ظرفیت لوړولو په خاطر په داخل او خارج کې ښوونیز او روزنیز کورسونه برابر ول.

ترتیب کوونکې:

انجینر عبدالقیوم (ظفری)

د ډیجیټلي همږغې رئیس